شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك مرکزی نشراتی ارگان

دوهم کال شپږمه گڼه پرلپسې (٥٦)

چهار شنبه د ١٣٧٥ هـ ش کال ددلوې دمیاشتې (١٧)

د ١٩٩٧ میلادي کال فبروري (٥)

د ١٤١٧ هـ ق کال د رمضان المبارك (٢٧)

خداي «ج» ظالمان نه خوښوي

د بدي بدله:لوي خداي «ج» فرمايي : د هغي په شان بدي ده، نو که چا بښنه وکړه او صلح يي وکړه، نو اجر يي په الله«ج» باندي دي بي شکه چي الله«ج» ظالمان نه خوښوي...ژباړه (الشورى - ٤٠)

د ظلم څخه ډډه کوه

حضرت علي رضي الله تعالي عنه وايي، د الله رسول «ص» فرمايلي دي : « د مظلوم له ښيرا څخه ځان ژغوره دا ځکه چي هغه له الله تعالي څخه خپل حق غواړي، او الله تعالي د حق لرونكي حق نه منع کوي. »

(مشكوة - باب الظلم)

د مخابراتو وزير محترم ملا الله داد اخند له شريعت سره په مرکه کي:

د ١٠٠٠٠ نمرو په ظرفيت د يوي تيلفوني دستگاه په پيرلوله زيمنس کمپني سره موافقي ته رسيدلي يو

له نړي سره د سټلايټ تيليفون له لاري ارتباط لرو

په کابل کي د طالبانو د اسلامي تحريك په لاس د اسلامي نظام تر ټينگښت وروسته له ټولو مفتوحه ولاياتو سره تيلفوني نظام فعال شويدي

په هيوادکي دننه او له هيواده بهر نړي سره مو پوسته فعاله کړيده

د شريعت اوونيزي ډيرو درنو لوستونكو موږ د خپلو مركو په ترڅ كي دا ځل د افغانستان د اسلامي دولت د مخابراتو له وزير محترم ملاالله داد اخند سره مركه كړيده چي په ګډمي لولو.

پوښتنه : محترم وزير صاحب د طالبانو د اسلامي تحريك له را منځته كيدو د مخه مو په كومو جبهو كي په عملي جهاد كي برخه اخستي ده ؟

ځواب : زه د انقلاب نه مخكي د احمديه مدرسي زده كوونكي وم چي د تره كي او د هغه د خلقي دوهم مخ

دوهم مخ

د نيكمرغه كوچني اختر په وياړ د عاليقدر امير المؤمنين د مباركي پيغام

مسلمانانو ورونو او مؤمنو هيوادوالو

السلام عليكم و رحمت الله و بركاته

وړوكي اختر د مباركي روژي عبادت او په همدي مياشت كي د مجاهدينو ټول فتوحات دي درته مبارك وي الله«ج» دي وكړي چي ټولو مسلمانانو به د مجاهدينو په شان په دي مياشت كي زيات عبادت كړي وي ، د اختر ورځي د خداي «ج» د رحمتونو بركتونو او د مسلمانانو د خوشحالي ورځي دي ددي دپاره چه په دي ورځوكي ټول مسلمانان خوشحاله وي نو بايد چه خپل ضعيف گاونډيان او خاصتاً كونډي او يتيمان بي برخي او بي شفقته پري نږدي او هغوي ته هم د خپلو لو ډاو زامنو په نظر وگوري په سرئي د شفقت لاس تير كړي او په مشكلا توكي ورسره كومك وكړي .

مسلمانو ورونو دا چه نن د افغانستان په يوه لويه برخه كښي اسلامي نظام حاكم دي او مسلمانان په اطمينان او خوشحالي سره اختر تيروي نو بايد هغه مسلمانان چه په مختلفو ځايونوكي د ظالمانو تر ظلم لاندي دي او د خپل مال عزت او ناموس د ساتلو توان نه لري، هيرنه كړي له هغوي سره كومك كولوته ملا وتړي كه موتور ځه په وسه نه وي پوره دوعاگاني ورته وكړي، چه خداي «ج» يي د ظالمانو له ظلم څخه خلاص كړي زه له دي مبارك فرصت نه په استفادي سره ټولو هغه كسانو ته چي د مختلفو مجبوريتونو او د ظالمانو د فشار له كبله تر اوسه د اسلامي دولت د مخالفينو په صفونو كي دريدلي دي د بشپړي عفوي اعلان كوم دوي بايد د اسلامي دولت له مجاهدينو سره ملگري شي. دوي ته داډ وركوم چي اسلامي دولت به د دوي د سر او مال او د نورو حقوقو پوره ساتنه كوي . په پاي كي يووار بيا مباركي درته وايم الله «ج» دي د نيكو اعمالو توفيق دركړي .

والسلام

د اسلام خادم ملا محمد عمر «مجاهد»

په نيويارك كي د اسلامي دولت د هيأت مشر مولوي وكيل احمد «متوكل» د افغانانو يوي غونډي ته وويل :

حكومت بايد د ملت په مشوره جوړ شي

اسلام ښځو ته د تعليم پوره حق وركړيدي خود اضطراري شرايطو له مخي په افغانستان كي دا حق كنټرول شويدي

په امريكا كي يوي افغاني خور امريكا غږ ته وويل :

طالبان د ملت په درد دردمند خلك دي

دوي كولي شي چي ټول ملت په يو محور راغونډ كړي

د مولوي وكيل احمد متوكل په مشري د اسلامي دولت يو لوړ رتبه هيئت چي امريكا ته د سياسي فعاليتونو لپاره تللي دي د شنبي په ورځ د دلوي د مياشتي په ديارلسمه يي په هغه لويه غونډه كي چي د نيو يارك دوهم مخ

دوهم مخ

جريان رفت و آمد بس هاي برقي در كابل احيا ميگردد

گزارشگر هفته نامه شريعت گزارش داد : به خاطري باز سازي و احياي مجدد فعاليت موتر هاي برقي كارمندان و كارگران تخنيكي بس هاي برقي توظيف شده اند تا پرزه هاي لين هاي خط السير فعاليت هاي برقي سيلو الي كارته نو و سيلو الي ده افغانان را جمع اوري نموده، جهت ترميم به وركشاپ بس هاي برقي در شيرپور انتقال دهند .

بايد گفت كه فعاليت بس هاي برقي از مدت چهار سال بدين سو متوقف بود و اكنون به اثر توجه مسؤلين محترم وزارت ترانسپورت دوباره احيا ميگردد .

د پروان ولايت د امنيتي قوماندان محترم قاري جلالزي له شريعت اوونيزي سره په مركه كي:

د پروان اوسيدونكو راته وويل چي موږ د امير المؤمنين بيعت منلي دي

موږ د توكميزو اختلافاتو په ضد را پاڅيدلي يو نو له تعصبي اختلافاتو سره سخت مخالف يو

درنو لوستونكو موږ تيره ورځ د پروان ولايت د امنيتي وضعي په اړه ددي ولايت د امنيي له قوماندان محترم قاري «جلالزي» سره مركه كړيده چي ستاسو درانه حضور ته يي وړاندي كوو

پوښتنه : د پروان ولايت له فتحي وروسته د سيمو د اوسيدونكو چلند له تاسو سره څه ډول دي ؟

ځواب : د پروان ولايت له فتحي وروسته ددي ولايت سپين ږيري، علماء او مخور خلك موږ ته راغلل زموږ د فتحي هر كلي يي وكړ . د هر راز مرستي او همكاري ډاډ يي راكړ. راته يي وويل چي موږ د عاليقدر امير المومنين بيعت منلي دي . د فتحي په لسم‌يو-خلورم مخ

د هيواد په مختلفو ولاياتو كي په غټه پيمانه سپكه او درنه وسله ونيول شوه

د باختر د اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي د وسلو د هغو تصفيوي بريااليو عملياتو په نتيجه كي چي د اسلامي اردو د امنيتي ځواكونو لخوا د لوگر په ولايت، د پروان د ولايت د جبل السراج او بگرام په ولسوالي، د كابل د ښار او د كابل ولايت د سروبي ، ميربچه كوټ، گلدري، كلكانو په ولسواليو د كاپيسا ولايت د تگاب په ولسوالي د وردگو په ولايت او د ننگرهار د ولايت په مختلفو ولسواليو كي تر سره شول . اسلامي اردو ته ٢٤ پايي توپونه ٧٦٥ ميله كلاشنكوفونه، ٥٠ ميله راكټ لانچر ٦ ميله گرينوف، ١٩ پايي زيكويك، ٢٧ پايي دهشكي ، ١٨ پايي هاوان،د BM 12 ٥دستگاه وي ، د BM1 دوه دستگاوي، ١١ ميله پيكا ماشينداري، ٢ ميله لوانداز ٢ ميله، ٢٦ ميله پيشه ماشينداري ، ١ ميل كلكوف، ٩ پلو پايپ، ٢٠ ميله سل ډزي، ٦٧ ميله پولس ډزي، ١١ ميله پنځه ډزي ، ٥٤ قبضي تفنگچي، ٣١ ميله درني ماشينداري، ١١ پايي M.Cتوپونه او په ډيره پيمانه نوره وسله او جنگي مهمات په لاس ورغلي دي .

فابريكات نساجي گلبهار، جبل السراج و بند برق جبل السراج احيا ميگردد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد به منظور توليد تقويه بنيه اقتصاد ملي به تاسي از هدايت عاليقدر امير المومنين هياتي مرکب از معين اول وزارت صنايع خفيفه و مواد غذايي، معاون لوي حارنوالي و سرپرست رياست عامل نساجي فغان اخيراً از فابريكات متذكره ديدن نموده و محترم مولوي نجيب الله حقاني معين اول وزارت صنايع خفيفه و مواد غذايي در جمع كارگران و كارمندان فابريكه جبل السراج ضمن سخنراني خط مشي دولت اسلامي افغانستان را توضيح نموده فتح گلبهار و جبل السراج را از دست شر و فساد به آنها تبريك گفته خاطر نشان ساخت كه به خاطر افزايش سطح توليدات و تقويه بنيه اقتصادي كشور بيشتر از هر وقت ديگر به وظايف و وجايب ديني و اسلامي شان متوجه شوند .

xxxxxxxxxxxxxxxxx

د بابري مسجد په ځاي د درمال جوړولو كار د څلويښت ميلونو ډالرو په مصرف په چټكي سره پيل شو

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي وروسته له هغي چي متعصبو هندوانو د ١٩٩٢ ميلاد كال د ستمبر په شپږمه ټول انساني كرامتونه تر پښو لاندي څلورم مخ

څلورم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د ازبك قوم په هكله د كريموف ډڅرگندونو انگيزي

د اسلامي دولت مخالفينو وروستي ماتي په دښمن دومره سخته تمامه شوه چي هم يي د دوي سيمه ايز حاميان او طراحان او هم يي بين المللي مرشدان ورته په كوكو كړل چي د ځنو غر يي هيوادونو وروستي څرگندوني په بين المللي سطحه او د ايران غونډه او د ازبكستان د جمهور رئيس كريموف څرگندوني يي په سيمه ايزه سطحه بيلگه گڼلي شو . كريموف وليدل چي د دوي ايجنټان له حتمي ماتي سره مخ دي اود خلاصون لپاره يي هم څه چاره نشته نو په نورو پلمو يي لاس پوري كړ او تيره ورځ يي وويل چي (موږ د ځنو گاونډيو هيوادونو په ځير په افغانستان كي هم د اقليت ازبكو بر خليك ته په انديښنه كي يو . »

موږ ده ته وايو چي جناب كريموف! موږ پوهيږو چي ته د ازبكو په كيسه كي نه يي كه تا سره ريښتيا هم د ازبكو د برخليك غم واي نو په خپل هيواد كي دي ولي په ازبكو رڼا ورځ توره شپه كړيده ؟ له ازبك عالمانو ، پوهانو، روښنفكرانو دي ولي زندانونه ډك كړيدي؟ هغوي ته ولي ازادي نه وركوي؟ ، ته ولي د ملت ارادي ته نه تسليميږي ؟ اوس ټول پوه شويدي چي ته غواړي په سيمه كي د يو ژاندارم په توگه تيارز وكړي او د منځني اسيا په هيوادونو دي ستا زعامت حاكم وي ته همدي هوس او خيال مجبور (٢مخ)

(٢مخ)

د مباركي پيغام

محترم عاليقدر اميرالمؤمنين، درنو او مؤمنو هيوادوالو!

د شريعت اوونيزي د مسؤولينو ، كاركوونكو او ليكوال هيئت لخوا د نيكمرغه كوچني اختر په مناسبت د مباركي مراتب او نيكي هيلي ومنئ.

لوي او توانا خداى «جل جلاله» مو روژه، ختمونه او نور عبادتونه قبول او هوسا ژوند نصيب كړه .

مسؤولين موزيم ملي، ارشيف ملي و گالري در مصاحبه با خبرنگار هفته نامه «شريعت»

موزيم ملي افغانستان يكي از موزيم هاي برجسته ترين و غني ترين موزيم هادر سطح جهان قرار داشت

انجنير عبدالخبير «هوتكي» رئيس موزيم هاي ملي

قديمترين اسناد در آرشيف ملي؛ فرمان سلطان بايقرا است كه به قرن پانزدهم ميلادي ارتباط دارد

محمد اسلم «همكار» رئيس آرشيف ملي

تقريباً (٨٠٠) اثر در گالري ملي موجود و (٣٥) اثر از طرف افراد شريراداره سابق به يغما برده شده است

غلام صديق «ساعي» مسؤول گالري ملي

سوال : لطفاً خود را به خوانندگان هفته نامه «شريعت» معرفي نمائيد .

ج : اسم من انجنير عبدالخبير «هوتكي» رئيس عمومي موزيم هاي ملي ميباشم .

سوال : محترم انجنير صاحب! اهميت موزيمها ، بخصوص موزيم ملي كشور در چه نهفته است ؟

ج : موزيمها از دير (ص٤)

(ص٤)

د هيواد په شمالي سيمو كي ميشته و مجاهدو ورونو! د الله اكبر ملكوتي نارۀ پورته كړئ، د اسلام د دښمنانو او ملي خائنانو وروستي نوغي له بيخه راوباسئ

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤل مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتکی»
مرستیال : ملا اسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۲۰۰) افغانۍ
په پاکستان کې (۲) کلداري
پته : کابل وزیراکبر خان مینه/سرک۱۱/ کور (٥٢٠)
تیلفون : ۲۲۳۸۱- توزیع و شکایات ٦۲۸٥۹
پوست بکس : (٤٧۱)
په پېښور کې : دطالبانو نمایندګی/ تیلفون: ۸٤۰۲۲۱

د سرمقالې پاتې

کړي بې چې داسي څرګندوني وکړي .

تا هم د کومي امپراطوري جوړولو خوب لیدلي دي او غواړي چې ازبک قوم ولسوي تر څو په خپله نفع تري ګټه واخلي .تا باید دا درک کړي واي چې افغانان هیڅ زور او زیاتي ته سر نه ټیټوي. دا د هماغو مېړنیو او جنګیالیو نیکونو نمسیان دي چې د غیرت او حماسو کیسوېي د نړیوالو مجلسونه تاوده کړي دي . دا هماغه ننګیالي دي چې انګریزانو ته یي داسي تاریخي درس ورکړ چې اوس هم دي خواته راګوري نو هوکي یي زېږه شي، ته دي نېږدي ماضي ته ولي نه ګورې؟. دي باتور ولس ستا له بادارانو سره څه وکړل. ایا د هغوي د سیاسي او نظامي ویاړونو څلي یي له خاورو سره خاوري نه کړې؟ که ته لږ د هوښ سترګي وغړوي نو خپله به پوه شي چې ستا دا د جمهوري ریاست چوکي هم د همدي په ازادي مینو افغانانو د وینو نتیجه ده ځکه د شوروي اتحاد په جادو ولاړه مانۍ د همدوي په لاس دړې وړې شوه او تاته هم په کي برخه در ورسیده .

جناب کریموف ! تا ولیدل چې د خپل وخت بواځنۍ «سپر طاقت» د خپلو ټولو مالي، امکاناتو ، لوژستیکي موادو ، د زرګونو ټانګونو او الوتکو په شمول نظامي وسیلو ، مدرني او پر مختللي تکنالوژۍ، د خپل یو نیم لك فوځ په ملګرتیا ونه شو کولي چې د شاه شجاع وارثان او خپل جاسوسان او ګوډاګیان په افغـــانانو وتپي نو ته به څنګه خپل منفور دوستم په دوي وتپې. دا خو هغه افغانان دي چې ســـتاسو دواړو ګډ بادار یي مهار کړ نو غلامان به یي څه وکړي .

اوس که ته ازبك قوم پلمه کوي او برخلیك ته یي ځان اندیښمن ګڼي نو دا هسي تصنع او اصل حقیقت ته رنګ ورکول دي. ځکه د دوي برخلیك خو همدي خاین دوستم له جدي ګواښ سره مخ کړي و. همدا د طالبانو اسلامي تحریك و چې په حساسو شیبوکي یي د هیواد مځکني بشـــپړتیا د ساتني او اسلامي او ملي وحدت د تحـــــفظ لپاره ډګرته راټوپ کړل که نه خداي خبر زموږ دا ازبك ورونه به د کـــــوم (تاجکستان کبیر یا ازبکستان کبیر !!)د قهر څپو ته لویدلي و

موږ تا ته او ستا امثالوته په ډاګه وایو چې تاسي په افغانستان کي بوازي د مجرمینو، د اسلام د دښمنانو او ملي خاینانو (چي په هر قوم او توکي پوري اړه ولري) بد برخلیك ته منتظر واوسي، طالبان هیڅ توکمیز او تعصبي فکر نه لري د طالبانو اسلامي تحریك افغانستان شموله تحریك دي . دلته زموږ ازبك ورونه مطمئن دي او ځان له نورو قومونو سره د یو بدن غړي ګڼي او په ګډه یي ستا د اسلافو «کمونیستانو» سره کلك مقاومت او جهاد وکړ او دا چې له تا سره د دوي په اړه اندیښنه پیدا شویده نو دوي ته خو اور هم تا بل کړیدي . ایا تا د دوي او د ټولو افغانانو ګډ دښمن (منفور دوستم) د دوي د ارادو پر خلاف په بیدریغه مرستو ونه نازاوه ، که ته د ازبکو د حقوقو رښتوني مدعي وي نو تا به له دوي نه پوښتلي واي چې دوي له دوستم نه څومره نفرت لري، ولي دي په دوي کي یو صالح ممثل ونه موند چې په قومي لحاظ د دوي نماینده‌ګي وکړي نو تاته په کار دي چې د تشویش په ځاي د جګړي له ستر عامل او د دوي د خاین دښمن له حمایت نه لاس واخلي او توصیه ورته وکړي چې د ملت ارادي ته تسلیم شي، او که نه نو طبعي او ژر ده چې دا اور به نور هم ژبغرانده شي .

د شریعت تبصره

د اسلامي اردو د وروستیو بریاوو نتایجو ته لنډه کتنه

د طالبانو د اسلامي تحریك د میړنیو ځواکونو وروستیو پرله پسي فتوحاتو وښوده چې الهي نصـــرت تل د حق د لښکریانو په برخه وي . او باطل که له مادي لحاظه هر څومره غښتلي شي خو د اسلام د ځلاوو په وړاندي سراب ښکاري .

د بګرام، چاریکارو، جبل الســــراج، ګلبهار، د غوربند د ولسوالیو او د کاپیسا ولایت بریښنا ډوله فتحي او بیا له جګړي د پنجشیر د استراتیژیکي دري تخلیه کولو وښوده چې د اسلامي اردو بري حتمي دي او نن دي که سبا د ملت د قهر او غضب چاړه به د افغانســـتان د مســـلمان ولس د دښمنانو شارګ ته ورسیږي . ان شاء الله

مـوږ په وار وار ویلي دي چې هغـه ائتلافـونه چې د ملت د ارادي پر خلاف جوړ شوي وي او اسلامي اساس او ملي پښتوانه ونه لري په هیڅ صورت زموږ د ملت دیني او ملي غوښتني نشي پوره کولي ، د اسلامي دولت مخالف غیر متجانس ائتلاف کي هغو ډلو ګـډون کـړیدي چي پرون یي د یو بل په مـقـابل کي سنګرونه نیـولي وو ، په دې ائتلافونو کي داسي ډلي شاملي دي چي له یو بل سـره عـقـیـدتي ، نظریاتي او فکري ژور اخـتـلاف لري نو ځکه ولیـدل شـول چي د ختجان د وروستي نا مقدس ائتلاف جنازه هم د خپلو اسلافو په څیر پورته شوه او حتي په ډیرو حساسو او برخلیك ټاکونکو شیبو کي یي هم ونه شوکولي چي د یو بل مرسته وکړي .

په دې کي شك نشته چي الهي نصرت د اسلامي اردو د ځواکونو د بري ستر عامل دي، همدا راز د مجاهدینو په صفونو کي د تقوي، کلك ایمان، نظم او دسپلین جامه او د شهادت جذبه هم باید په دې اړه له پامه ونه غورځول شي. خو که ددښمن د ماتي فزیکي عوامل (هغه چي دوي پري باور او کلك ایمان

لري) وڅیړل شي نو د نورو ډیرو وجوهاتو تر څنګ دا ټکي هم د غـوروړدي ، د عـیـني شاهدانو وینا ده چي د پنجشیر له فتحي د مخه ددي دري او د تخار د ولایت اوسیدونکو په احتجاجي ډول مسعود له ګریوان نه ونیوه چي تا زموږ سره لوي ظلم وکړ. موږ دي له ټول افغان مسلمان ملت سره په دښمني اخته کړو. نور به موږ تاته هیڅکله هم اجازه درنه کړو چي زموږ کوروبه وران کړي او له دي ځایه د طالبانو د سپیڅلي تحریك په خلاف وجنګیږي . خو د دوي په ځواب کي مسعود خپل خپلسري قوماندانان ددي ناورین عاملین وبلل د کشران به مشرانو ته وایي چي موږ تاسو ګمراهان کړي یو او مشران به ورته وایي چي موږ مو څه کوو تاسو خو په خپله د ګمراهي لاروتبوله»

همداراز په کندز ، مزار او د ملیشو تر کنترول لاندي نورو ښارونوکي ددوي په ضد د مجاهد او مؤمن ولس د پراخو مظاهرو او غونډو بهیر ښه جرتوي چي ولس نور د دوي د ظلم او وحشت له لاسه پوزي ته راغلي او په هر قیمت چي وي حتي د سر په بیه حاضر دي د دوي ظلمتکدي ونړوي.

د دښمن لویدلي پوځي مورال هم د دوي د ماتي یو لوي سبب دي چي حتي په نړیواله سطحه یي هم خپله ماتي اعلان کړه د جنرال یوسف دا څرګندوني چي (موږ د سالنګ تونل، ځکه ونړاوه چي د طالبانو د اسلامي تحریك مخه مو نیولې وي» د پورتني دعوی څرګندوي او ښه ثبوت دي.

په وروستیو جګړوکي د اسلامي اردو په واسطه د سلهاو ملیشو وژنه او اسارت د دوي مورال نور هم ټیټ کـړیدي . اوس چي ددي ملیشو قوماندانان تښتي او لګیا دي خپلي کورني بهرته لیږدوي . نظام او اداره په کلي ډول شړیدلي ده نو دي ملیشو درك کړیده چي قوماندانان یي لګیا دي تښتي نو دوي ولي له دي نه ډیر حماقت وکړي او له دي وروسته هم وسله اوچته کړي .

همدا راز په سیاسي ډګر کي د اسلامي دولت پر له پسي بریالیتوبونه هم بي تاثیره ندي، د اسلامي کانفرانس له غونډي نه د دوي د نماینده شړل، او دعالیقدر امیر المؤمنین په نوم د مصر د عربي جمهوریت (چي په سیمه کي سیاسي پرستیږ او ډیر اثر او رسوخ لري.) د جمهور رئیس لخوا د رمضان د مبارکي میاشتي په مناسبت د مبارکي پیغام رالیږل . د اسلامي ګاونډي هیواد پاکستان لخوا په کابل کي د سفارت خلاصولو اعلان، په خپله ددي سکال دي او روښانه کـوي چي نړي نوره حـقـایقـوته تسلیمیدونکي ده او په نړیوال سیاسي تناظر کي د اسلامي دولت هنداره صفا ښکاري .

همدا اوس د اسلامي دولت یو لوړ رتبه هیئت په نیویارك کي په سیاسي فعالیتونو بوخت دي او د بریالیو نتایجو خبر تري رارسیدلي دي . د اسلامي اردو وروستي فتوحات ددي لامل شول چي د مخالفینو تر منځ اختلافات ډیر شي او یو په بل د ماتي پړه وغورځوي دا دي په نړیواله سطحــه د هغي «جنبش» استـازي (چي نړیوال اسـتـکـبـار پري ډیر مصرف کړي دي او حساب یي پري کاوه . او اوس د رکود او سقوط په لور خپل وروستي پړاوونه وهي) جنرال یوسف اعـلان وکړ چي خپلي سیمي یي ځکه له لاسه ورکړي چي د اسلامي دولت د مخالفینو تر منځ هیڅ ډول هماهنګي نه وه . نو په هغه وخت کي چي د دوي تر منځ نسبي او ظاهري عملي ائتلاف

او هم آهنګي موجوده و خووبي نشو کولي چي د اسلامي دولت مخه ونیسي نو اوس چي په سوریو کي ننوتي او د اسلامي اردو له ویري بي ځان پسي ګټي هم اړولي دي په بوازي ځان ددي کار د کولو فکر هسي خیال او جنون دي دوستم که څه هم د تونل بندول د ځان لپاره مهم ګڼي خو دا خو هسي یو طفلانه تکتیك دي او بي له دي چي یو بل جنایت هم وکـړي او د ملت په وینو جـوړ شـوي تونل خـراب کـړي او خلکوته یي د تګ او راتګ ستونزي پیدا کړي بله نتیجه به ځکه ونه لري چي د شیبر په فتحي سره به د اسلامي اردو ځواکونه په دوي خپل عملیات له دي لاري جاري وساتي ، موږ له جنرال یوسف سره په دي کي موافق یو چي د دوي تر منځ هماهنګي نشته او د دوي تر منځ د هماهنګي د نشتوالي علتـونه ښکاره دي او هغـه دا چي د دوي ائتلافونه په توکمیز اساس ولاړ و او لکه چي ورته مو اشاره وکړه کوم عقیدتي اړخ یي نه درلود او د بهرنیو د لاسوهنو په اثر او د دوي د ګټو د تحفظ لپاره جوړ شوي و که نه دا ائتلاف په داسي وخت کي اعلان شـو چي طالبان په شمالي سیمو کي له ډیرو ستونزو سره مخ و خـو څـرنګه چي د ملت بالني او عصبیت فکتور زموږ په ټولنه کي ځـاي نه لري ملت د دوي نه متنفر شو او د اسلامي اردو تر شا ودرید چي الحمد لله د همدوي په همت او مرسته یي وکولي شول چي د ملیشو ځواکونه له پنجشیر او سالنګ نه هم واړوي او د خپل بابللي مورال د اعادي ترڅنګ خپل صفونه هم بیرته منظم کړي . چي دا د نړي په نظامي تاریخ کي یو اعجاز ګڼل کیږي.

دمخابراتو وزیر محترم ملا الله داد اخند له...

نظام له واکمني مخکي مي هم د قندهار په مرکز کي چریکي حملي تر سره کړي .او د ثور تر خونړي کودتا وروسته مي ددې ملحد نظام په ضد دارغستان په ولسوالي کي د حرکت انقلاب اسلامي مربوط د شهید حافظ عبدالکریم په جبهه کي په جهاد پیل وکړ د حافظ عبدالکریم تر شهادت وروسته مي د مولوي محمد یونس خالص په مشري د افغانستان د اسلامي حزب له قوماندان مولوي محمد شیرین سره د نجیب د حکومت تر سقوط پوري جهاد ته دوام ورکړ . خو کله چي د قوماندانانو تر منځ اختلافات ډیر شول او د جهاد خط السیر ته یي تغیر ورکړ نو ما هم وسله وغورځوله اود کوټې په سرخاب کي مي خپل سبق بیرته پیل کړ تر دي چي د طالبانو اسلامي تحریك را منځګه شو او یو ګل بیاد منحرفینو مقابلي ته راووتو .

پوښتنه : تاسي چي د مخابراتو وزارت ته راغلي نو دلته کارونه څنګه و او تاسي څه وکړل ؟

ځواب : دا ښکاره خبره ده چي په کابل کي دا تیر څلورنیم کاله هسي نش په نوم حکومت و خو عملاً هیڅ اداره نه وه . دلته چا خدمت نه دي کـړي . د حکومت له امکاناتو او مقامونونه شخصي ګټي اخستل کیدلي، موږ چي دلته وزارت ته راغلو دلتــه هم ډیره بي نظمي وه د تیلفـون مشترکین له ډیرو ستونزو سره مخ وو موږ هلي ځلي پیل کړلي له مشرانو سره مو خپلي ستونزي مطرح کړلي او الحمد لله نتیجه یي ورکړه پخوا به په شپه او ورځ کي ۱۲ ساعته تیلفون فعال و او هغه هم د جنراتور په بریښنا چي ډیر زیات مصرف به پري کیده موږ ورته بریښنا فعاله کړه اوس ټول تیلفونونه ۲٤ ساعته فعال دي او مصرف یي هم ډیر کم دي .

همـدا راز د ځلورمي کـارته او پل چرخي دستګاه ګاني چي ډیر عوارض یي درلودل کیبل یي خراب وو او ځني نوري پرزي یي هم کـمي وي مـوږ د خپلو محدودوامکاناتو سره وکولي شول چي تر اوسه د ځلورمي کارته د دستګاه ډیره برخه فعال کړو اوس هلته تر ډیره حده مشکل حل دي او تیلفونونه فعال دي په پاتي برخي مو هم کار پیل کړیدي د پل چرخي دستګاه چي تعمیر یي هم خراب شوي و، تعمیر مو ورته ترمیم کړ او ساماتونه او پرزي مو ورته تهیه کړي او کار پري روان دي .

پوښتنه : د تیلفونونو د تکثیر لپاره مو څه کار کړیدي ؟

ځـــواب : د رباني په دوره کي د مخابراتو د وزارت او د تجارت د اطاق د ریاست تر منځ د تیلفون د دستګاه د واردولو قرار داد شوي و خو بیا چا تعقیب کړي نه دي اوس موږ له هغوي سره تماس نیولي دي او په قرار داد د عمل غوښتنه مو تري وکړه همدا راز د یو بل سوداګر حاجي عبدالباري په وساطت مو له زیمنس کمپني سره ارتباط ونیو او له هغوي سره مو د ۱۰۰۰۰ نمرو په ظرفیت د یوي تیلفوني دستګاه په هکله خبري کړیدي هغوي راسره موافقه کړیده چي دا دستګاه په موږ وپلوري او په کابل کي یي راته نصب کـړي، زموږه هیئتونه له هغوي سره په اسلام اباد کي خبري کړي او هغوي هم وعده کړیده چي د فبروري په دولسمه دلته راشي او له نږدې سره وګورو. که موږ په دې کار مـــوفق شو نو ۲٤ سېلابيښ تیلـــــفونه به هم تري وپلورو .

پوښتنه : د مـخـابراتو د وزارت اقتصادي حالت ددې دستګاه ګانو د اخستلو توان لري؟

ځـــواب : ددې کار سرمایه ګذاري د حاجي عبـــــدالباري په نوم یو سوداګر کوي .

پوښتنه : له ولایاتو سـره مـو تیلفوني اړیکي څه ډول دي ؟

ځواب : ځني اقتصادي ستونزي او د پرزو نشتوالي د کار مخه نیسي خو بیا هم موږ وکولي شول چي له ټولو مفتوحه ولایاتو سره رادیو ریلي یي سیم له لاري تیلفوني اړیکي ټینګي کړو .

پوښتنه : له نړي سره مو تیلفوني ارتباط څه ډول دي ؟

ځواب : یو تاجر په کابل ننګرهار، کندهار، او غزني کي د سېلايټ له لاري له نړیوالو سره زموږ د وطنوالو ارتباط ټینګ کړیدي.

پوښتنه : د کـابل ښاریان د ۷۰ هزار له شـــماري نه ډیر شکایت لري تاسي په دي اړه څه اقدام کړیدي ؟

ځـواب : دا شـمـیـره تخنیکي عوارض لري د مځکي لاندي کیبل یي ډیر داغدار شویدي او ضایعات ډیر لري او اوس د کیبل د بدلون زموږ په وس کي نشته.

پوښتنه : د رشوت د مخنیوي په اړه مو څه ګام پورته کړیدي ؟

ځواب : موږ اعلان کړیدي چي څوك په رشوت ونیول شول د محمدي شریعت سره سمه جزا به ورکړلي شي . چي د خپلي وینا سره سم مو هغه دوه تنه محمد موسي او محمد منیر چي د جدي په ۲۲ په رشوت اخستلو ګیر شول رسماً څارنوالي ته ولیږل او اوس هم بندیان دي .

پوښـــتنه : د پوســـتي په اړه معلومات راکړئ

ځواب : الحمدلله زموږ د هڅو سره پوستي نظام بشپړ فعال شویدي اوس برسیره پردي چي په ټول هیواد کي پوستي نظام فعال دي .

زمــــوږ مځـــکني پوستــه د تورخـــم او سپـــین بولـــدك له لاري او هـــوایي پوسته د امیر سر او دوبي له لاري نـــــړي ته هم رسیږي .

xxxxxxxxxxxxxxxxx

په نیویارك کي د اسلامي دولت د هیأت مشر ...

په شیر شاه هوټل کي د سید جمال الدین افغاني مسجد د خطیب محترم مولوي محمد نبي یوسفي او ددي مسجد د مقتدیانو لخوا جوړه شوي وه ګډون وکړ .

په غــــونډه کي محترم مولوي وکیل احمد «متوکل» او ددي هیـــئت غړو هر یو د مهاجرینو د راستیدلو دچارو وزیر محترم مولوي عـــبدالرقیب د ملـــګرو ملتونو لپاره د افـــغانستان د اسلامي دولت دائمي استـازي او لوي سفیرمولوي عبدالحکیم «مجاهد» او مولوي عبدالوهاب هر اړخیزي وینـــاوي وکړي او د اسلامي دولت اهداف یي برخـــوالوته تشریح کړل .

په پاي کي محترم مولوي وکیل احمد «متـوکل» د برخـــوالو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل . محترم «متـــوکل» د یوي پوښــتني په ځــواب کي وویل : حکـــومت باید د خلکو په مشـــوره جــوړ شي . موږ اوس په افغانستان کي د امنیت د ټینګښت لپاره کار کوو او وســـله را ټولوو او په هغو ۲۲ ولایتونو کي چي د اسلامي دولت تر کنترول لاندي دي بشـپړ امنیت ټینګ دي . د هیـواد د شمال اوسیـــــدونکي هم زموږ ورونه دي دوي هم حق لري چـــــي د ظالم له منګولو خلاص شي ، ارام ژوند وکـړي او هلته وسله را ټوله شي. بیا د ملت خوښه ده چي هر تصمیم نیسي .

د ښځو د تعلیم او کار په هکله محترم «متوکل» د یوي بلي پوښتني په ځواب کي وویل : د اسلام مبارك دین دا خوښوي چي باید ښځي تعلیم وکړي، خو څرنګه چي اوس شرایط اضطراري دي نو په څو ورځو ځنډولو بي معـافي غـواړو . محـتـرم «متـوکل» وویل په ښځو د نر په څیر تعلیم فرض دي که موږ یي ترسره نه کړو نو خپله فریضه به مو ادا کړي نه وي موږ په دي هکله خپلو خویندو ته پوره اطمینان ورکـوود ښځو د کـار په هکله محـتـرم «متوکل» وویل چي د افغانستان د نفوس له نیم نه ډیره برخه ښځي تشکیلوي نو ډیر ضرور ده چي ښځــــو ته په ډیر احترام قائع شو .

په خبـر کي ویل شویدي چي په دي درنه غونډه کي ډیرو افغاني خویندو هم ګډون کړي و بوي افـــغاني خور چي په دي غـونډه کـــــي یي ګـډون کـړي و امریکا غـوراډیو سره په مــــرکه کي وویل موږ له دي غونډي څخــــه ډیر ښه نتایج تر لاسه کړل او تري راضي یو ، موږ ولیدل چي دا خلك په رښتیا د افغانستان په درد دردمند دي د ټولو برخــــوالو ســـوالونو ته یي ډیر ښــــه ځـــوابونه وویل، زموږ نظر دا دي چي دوي په رښتیا سره کولي شي چي ټول ملت په یو محور را ټول کړي

خبـــر زیاتوي چي غونډه دومره لویه وه چي حتـــي دوه دري سوه تنه د ځاي د نشتـــــوالي له امله له هوټل څخه د باندي پاتي و .

xxxxxxxxxxxxxxxxxx

نزول قرآن مجید و شب قدر

ما فـــرستادیم از چـــرخ نهـــم کیـــمیا بصـــلح لکـــم اعمـــالکم

المسترحم من الله

ماه رمضان المبارك سر تاج ماههاي تمام سال، ماه مغفرت و رحمت و رهانیدن محکومین بدوزخ از دوزخ، ماه صیام و قیام و عبادت ، ماه فراخي رزق و خیر و برکت ، ماهي که شب قدر در وي است (به اکثر روایات) و نزول قرآن مجید این کیمیاي سعادت در شب قدر وي، وعید سعید فطر در عقب وي است زهي شرف و بزرګي و برکات و فضائل که خداوند تعالي به این ماه عنایت کرده است .

اگر دقیق شویم این همه خیر و برکت براي ما بندګان بوده و خداوند مهربان جل جلاله ما ګنهکاران را بدان نواخته است خوشابحال کسانیکه براي خیر دنیا و اخرت از ساعات و دقایق این ماه بزرگ استفاده کرده باشند و اي! بحال آنانیکه آن را بغفلت و یا لهو و لعب ګذرانیده اند :

نزول قرآن مجید : قرآن کریمیکه مادر نماز مي خوانیم و تلاوت میکنیم و در سینه ها به الفاظ متخیله محفوظ است و در مصحف ها به نقوش حروف نوشته است اثر صفت مقدس ذاتي باري تعالي (کلام) از جمله صفات ذاتیه هشت ګانه(حیات، علم قدرت، اراده، کلام، سمع، بصر و تکوین) است، قرآن کریم درازل به قدرت و اراده باري تعالي از صفت مقدس کلام نشئت کرده و در لوح محفـــــوظ بهمین ترتیب موجوده نوشته شده است و این رانزول اول گفته اند:

در یك زمان دیگر- که او تعالي میداند - از لوح محفوظ جمعاً و یك بار در ماه رمضان در شب قدر از لوح محفوظ در اسمان دنیا بمقامي که بیت العزت گفته اند به بدرقه هزاران ملائك (علیهم السلام) فرود آمده و این را نزول دوم گفته اند :

همزمان با بعثت پیغمبر گرامي ما ﷺ هزار و چار صد و چند سال پیش از امروز نزول سوم آن آغاز شد، هر اندازه ایکه باري تعالي اراده، فرستادن آن را میفرمود به جبرئیل علیه السلام لفظ و معناي آن را بطور بیچوني مي اموختاند، جبرئیل علیه السلام که به نص قرآن مجید ذي قوه، مکین، مطاع و امین است هیچ حرفي از لفظ و معناي آن تغییر از وي علیه السلام نیافته است بحضور رسول الله ﷺ بصورت فرشته اي و احیاناً بصورت ادمي حاضر میشدند و قدر فرستاده شده را لفظاً ومعنيً، کاملاً و بدون هیچګونه تغیر مي آموزانیدند، این ترتیب نزول با ترتیب موجوده قرآن مجید که با ترتیب لوح محفوظ مطابق است فرق داشت باعتبار وقائع و یا سوالهاي پرسش کنندګان و یا علتهاي دیگر، بعضي پیش و بعضي پس نازل میشد . جبرئیل امین به آنحضرت علیهما الصلوات والسلام هر بار موضع اصلي آیت ها و سوره را نشان میدادند، در هر ماه رمضان المبارك جبرئیل امین با آنحضرت علیهما الصلوة والسلام تمام سورتهاي نازل شده را تکراراً تلاوت میکردند و در رمضان اخیر عمر مبارك آنحضرت ﷺ دو بار با هم تلاوت کـردند، باین دلیل وسـواس و احتمال ضائع شدن حتي یك حرف هم بکلي از بین رفته است :

این نزول تدریجي که نزول سوم گفته اند هنګام با عمر مبارك رسالت آنحضرت ﷺ تقریباً در بیست و سه سال تکمیل و به ترتیب موجوده به هدایت آن حضرت ﷺ مرتب ګردید :

حضور اکرم ﷺ بعد از اتمام وحي ایت هاي نو رسیده را کـاملاً بدون هیچ نوع تغییر یا کم و کاست بیاد میداشتند زیرا باري تعالي براي شان اطمینان داده بود که : (... وعده است بر ما در سینه تو جمع کردن قرآن را و آسان کردن خواندن آن را ... سوره قیـامت) متصل به آن نویسند ګـان وحي و از بر کنندګـان (حـافظان) رضي الله عنهم را امـر میفرمودند که بنویسند و حفظ کنند، به این ترتیب در حیات مبارك شان قرآن مجید کاملاً نوشته شد ولي نوشته هاي پراګنده به سنګ ها، به استخوانها، به برګ هاي درخت خرما و غیره بود، و بسیاري از صحابه رضي الله عنهم قرآن مجید را از ول تا آخر آن از بر (حفظ) کردند، ابوبکر صدیق« رضي الله عنه» در زمان خلافت شان نوشته هاي پراګنده مذکور را بمشوره« عمر فاروق رضي الله عنه براسطه همان کاتبان وحیکه ازآن جمله حضرت زید بن ثابت انصاري رضي الله تعالي عنه بودند و به تایید و ګواهي حافظان صحابه کرام رضي الله عنهم سر از نو پاکنویس و تنظیم کردند:

حضرت عثمان رضي الله عنه در عهد خلافت شان همان نوشته ها را از نزد ام المؤمنین حفصه بنت عمر رضي الله عنهما خواسته و بدست همان زید بن ثابت رضي الله تعالي عنه و کمك کاتبان معتمد دیګر و هر یك آیت آن بتایید و ګواهي دو تن از حافظان صحابه رضي الله تعالي عنهم تثبیت و بصورت هفت مصحف نوشتند و بشهر ها و ایالات بزرګ اسلامي فرستادند که مصاحف امروزي ما نقل معتمد و تضمین شده، همین مصاحف شریفه هفتګانه هستند، به این سرګذشت این نور هدایت و رهنمایي الهي به دسترس ما بندګان قرار ګرفت و الحمد لله .

شب قدر : شب قدر به نص قرآن مجید (سوره قدر) از هزار ماه - که یك عمر بزرګ است - بهتر بوده و به همین نص قرآن حکیم نزول دوم قرآن کریم در همین شب است :

این آیت مبارك را که با آیت سوره بقره یك جا کنیم که میفرماید : (ماه رمضان آنست که فرود آورده شده در وي قرآن ...) به ګمان غالب ثابت میشود که شب قدر در رمضان است و در حدیث ام المومنین عایشه رضي الله عنها که صاحب مشکات «رح» از امام بخاري «رح» روایت کرده ګفته شده که : لیلة القدر را در شب هاي طاق (۲۱، ۲۳، ۲٥، ۲۷، ۲۹) ده اخیـــر رمضان بجویید؛ و به این معني است حدیث ابن عباس رضي الله عنهما و حدیث ابو سعید خدري رضي الله تعالي عنه و بسیاري از روایات دیګر، در دعا شب قدر از ام المؤمنین عایشه رضي الله تعالي عنها روایت شده که ګفته است ، (من عرض کردم : یا رسول الله ! ما را بګو اګر دانستم که کدام شب ، شب قدر است در آن چه بګویم؟ فرمودند: بګو ! اللهم انك عفو تحب العفو فاعف عني) از این بر مي آید که براي بنده خواستن عفو و مغفرت از هر مطلب اهم، اهم تر است زیرا که در چنین شب بزرګ و وقت اجابت خواستن عفو را تلقین فرمودند

در حدیث حضرت انس رضي الله تعالي عنه آمده است که : (به شب قدر جبرئیل علیه السلام در یك ګروه فرشته ګان علیهم السلام فرود مي آید (چنانکه در سوره، قدر آمده است) و دعا میکنند هر بنده اي را که به نماز استاده و یا نشسته باري تعالي را یاد میکند و وقتیکه روز عید مسلمان شود ...) دعاي فرشته ګان معصوم از هرګناه و بندګان مطیع او تعالي که هیچ عصیان ندارند قرین اجابت است؛ زهي بخت و طالع میمون مسلمانانیکه به شب هاي رمضان المبارك عبادت میکنند .

عید فطر : عید فطر نیز به شرف رمضان المبارك مشرف است زیرا که پیامد و نتیجه ګیري و روز خوشي غلبه و ظفر بر نفس سرکش و روز خوشي اتمام فریضه او تعالي و تبریك آن در بین عباد است ، در حدیث انس رضي الله عنه به ادامه آنکه در بالا ذکر یافت آمده است : و وقتیکه روز عید مسلمانان شود یعني روز فطر، باري تعالي بر بندګان خود نزد فرشته ګان مباهات (افتخار) میفرماید پس میګوید : اي فرشتګان من ! دست مزد مزدوري که کار خود را مکمل انجام کند چیست ؟ میګویند : اي پروردګار ما! دست مزدش اینست که مزدکارش مکمل داده شود او تعالي میفرماید : اي فرشتګان من ! بندګان و کنیزان من فریضه من را که بالاي شان بود ادا، کردند و باز بر آمدند (به عیدګاه) نعره زنان براي دعا، سوګند به عزت من، سوګند بجلال من سوګند به کرم من، سوګند به بلندي رتبه من، سوګند به بلندي مکانت و درجه، من که هر آینه و حتماً دعاي شان را اجابت میکنم، پس میفرماید : باز ګردید در حالیکه مغفرت کردم شما را و تبدیل کردم ګناهان شما را به نیکویي ها پس باز مي ګردند بخشوده شده ګان (مشکاة از بیهقي رح)

از نظر همین بزرګي عید فطر است که نه تنها مسلمانان روز عید را بطور شایان شان او تجلیل میکنند بلکه شریعت اسلام براي بزرګداشت آن یك سلسله و اجبات و سنن را نیز مقرر کرده است از قبیل وجوب صدقه فطر بالاي ثروتمندان، تا محتاجان نیز از خوشي روز عید مسرور شوند، و وجوب نماز عید و خطبه، آن و سنت کردن افطار به خوردني هاي شیرین بعد از اداي صدقه فطر و پیش از نماز، غسل کردن، مسواك کردن، پوشیدن بهترین لباسهاي داشتني، استعمال خوشبویي و کشاده رویي و ...؛ پروردګارا ! ما را مددکن! بذکر تو و شکرتو و عبادت نیکوي تو . آمین .

دوران راغی

سالك قصبه وال

د رقـیب په زړګي باندي خـپګان راغي
د پردېو د تقلیـد کـاروان تالا شـو
انسانیت چي شمعي بلي کړي وحشت کي
د شـریعت په لاره هر چا قـدم کـیښود
د مظلوم او د یتیم اوښکي شـوي پاکي
د الله ثنا او صـفـت وایه بلبله
مـسافـره راشـه وګـوره وطن خـپل
چي خوشحاله نن په مخه افغـان راغي
د نیکونو د پښتو دوران راغي
دلتـه قـدر په رښتیـا د انسـان راغي
چي په واك دلتـه اصلي مسلمـان راغي
د رقـیب په سـر ګـرزار د توفـان راغي
پسرلي دي بیـا په سـوي بوستـان راغي
د جګړو له لاسـه څـومـره تاوان راغي
اندیښنه ښکره سـالك قـصـبـه واله
د خـوښي او ارامي بیـا زمـان راغي

د ادب مرغلرې

د خوبنۍ اختر

عبداللطیف «نثار»

د خوښي په ورځو شپوکي د خندا ښکلیه اختره
د ژړا ورځي شوي تېري مرحبا ښکلیه اختره
خوشحالي او عدل راغي شریعت نافذیدو کي
څومره لویه نیکمرغي شوه نن سبا ښکلیه اختره
سپین څلاندي بیرغونه د پامیر څوکو ته درومي
هندوکش به څوکو ګرځي طلبأ ښکلیه اختره
نن سینګار مو د سرو وینو په نکریزو بدل شوي
چه نن وخاندو په مینه په ښکلا ښکلیه اختره
خپل وطن به بیا آباد کړو په سرو وینو مو ګټلي
هم ژوندي مو زوړ تاریخ کړ د بابا ښکلیه اختره
د ناپالم کمي نه وه انتشي بمونه پرېږده
اوربدل مو په کور کلي هم پیدیا ښکلیه اختره
ډیر واړه مو یتیمان شول ډیري ځوني مو شوي کونډي
د چا حال به درته وایم په بیا بیا ښکلیه اختره
زه «نثار» به کچکول واخلم ګرځوم بي کور په کلي
تل کامیاب طالبان غواړم په دنیا ښکلیه اختره

فتحي عطا کن

شیخ غلام النصیر «چلاسي»

بجنګ نفس ما امداد ما کن
درین جنګ اي خدا فتحي عطا کن
بدنیا ما دګر حاجت نداریم
قبول این آرزو این التجا کن
زبان ما که تیغ بي نیام است
ز ضربش تلغ ما را هر کلام است
فسادي سخت تر از ماست هرجا
فساد ما ز نفس بي لګام است

د فتحو جنډه

رازقي ترېوال

د حق سپاهي یم مخ په وړاندي دي ګامونه زما
په هر قدم کي لري فتحي برغلونه زما
هره نعره مي د تکبیر دا تاتري لړزوي
په سردروکي دي خپاره نن هیبتونه زما
چي مي پر مخ کي څوك خنډ کیږي خپل سرونه به خوري
له ګرنګو څخه تیرېږي بهیرونه زما
په رحماني هره هیڅ یو څوك راته د ټینګي نه دي
مخ په بریو دي بېباکه غورزنګونه زما
شر او فساد هریو قوت چي راته پیښوکي د غمي
د خداي لښکري دي غښتلي قوتونه زما
په زلزلو یې د کسري لوړي ملني راغورځي
د ظلمت زړونه څیروي بل مشعلونه زما
د ملایکو په امین سره هریون زما دي
ځکه رسیږي خپل مقصودته کاروانونه زما
لکه موسی «ع» ید بیضا مي ده د توري بریښنا
په سامریانو دي بریکوني ګوزارونه زما
تاسي څوګوري فرعوني ځنګه خمیږي پسي
تاسي څو وینئ د میراني اعجازونه زما
که خداي کول دغه وعده هم دومره لیري نه ده
چي د سالنګ په سر به وریږي توغونه زما
د نوي ژوند نوي سهار به په وطن مي خپورشي
د حق په لمر به شي روښانه سمي غرونه زما
زما د فتحو به جنډي په ګل سرخ چېك شي
د اسلامي تحریك به پرشي ارمانونه زما
۱۳۷۵/۱۱/۸

بورېوکي

شعر د فضل ولي «ناګار» انتخاب د دوکتورس پروین صافي

خیال مي صحرا ده بوربوکي ګرځي راګرځي په کي
دا تبنتېدلي لیوني ګرځي را ګرځي په کي
دا ویر جهان یې وینه کړي د شعور غېږه کي
له دي نه اخوا دنیاګي ګرځي راګرځي په کي
غوږ مي نیولي د زلمي تاریخ دي تر اختګ نه
یوه نېپه د ملالۍ ګرځي راګرځي په کي
دا ګوم مسلم جګ شو په تنګ د افغاني کربلا
د پیغمبر د پت پګړۍ ګرځي راګرځي په کي
اور اورګۍ مي د امید بل دي په کومي شناختي
یوه یوه شوله سپوږمۍ ګرځي راګرځي په کي
خوني دریاب کي مو فرعون ترمري غرق شو
خو د ایمان د نوح کشتي ګرځي راګرځي په کي
لکه سکروټه سینه داغ کا ګریوان وسوزوي
مسته جلبه د ازادي ګرځي راګرځي په کي
بیا بونګوي راته احساس مي هیبت ناکه ماهي
«ناګار» ددي مجمر سپېرغۍ ګرځي راګرځي په کي

خازي

قاضي محمد حسن «حقیار»

راتلو ته د زیارت ستا اوازي وغزیدي
شاوخوا د قبر مي خازي وغزیدي
خیال مي لاهوتي چي د تکبیر شعار ور غبرګ شو
بلخ ته تر کاشغر یې انګازي وغزیدي
ویرېتنه غیرت مي له بریښن او مکاڼن نه
ځکه مي لندن پوري نېزي وغزیدي
شوه چي د رقیب مخکي به شونډو ستا خندا خپره
زما د ارمانونو جنازي وغزیدي
زړه چي دي هوس بیا د ښکلا د میني وکړ
ښکاري چي خاطر کي دي غمزي وغزیدي
مینه او ارزو به دي رنګینه شي «حقیار»
داسي مي په خیال کي اندازي وغزیدي

د بابري جومات په وير

ملا اسد الله «حنیفي»

بیامي به زړه باندي سګرېټي راووریږي خدایه
چي هندوستان کي بابري جومات نړېږي خدایه
بیا ابدالي بیا غزنوي وینه موجونه وهي
چي هغه مات سومنات بیا دوبار جوړېږي خدایه
مسلم ملت کي کور په کور ناري ناري دي ربه
په لایودیي کي چي محراب ممبر وراڼیږي خدایه
راځي رآپاڅي چي تاریخ د غزنوي تازه کړو
که محمود رانه لحد کي څه کیږي خدایه
اي ددنیا مسلمانانو سره یو جرګه شي
چي ایودیا کي د رسول «ص» امت ژړېږي خدایه
د «حنیفي» ځیګر کړم کړم ټپي ټپي شو
چي دا دغم آواز یې غوږ لره رسیږي خدایه
پیښور ۱۳۷۱/۹/۱۶ هـ ش

نور خدا کرده طلوع

رموز

شب ظلمان بګذشت صبح صفا کرده طلوع
در دل زره نګر نور خدا کرده طلوع
آن کریم که بما کرده کرم از در خویش
نور بخشیده به عالم چه بجا کرده طلوع
من که از عالمي بیجان بجان آمده ام
نقش تقدیر هم از دست رسا کرده طلوع
راز توحید به قلبم تطق نور بیست
ز الستم به یقین قالو بلا کرده طلوع
غرق عصیانم من از کرده نافرجامم
رحمت حق ز در صاحب سخا کرده طلوع
خوش بادا بتو اي مومن پاکیزه سرشت
که ز سر تا قدمت مشك خطا کرده طلوع
مي کند لحظه به لحظات نظارت دل ما
در دلها چو بینت که چها کرده طلوع
داوري مثل تو دارم طلبم نیست دګر
بس همینم که بمن لطف و سخا کرده طلوع
خوردني خوردي «رموز» غم فردا تو مخور
صبر نیکوست ترا بین ز کجا کرده طلوع

د فراق شپې

«متقي»

د فراق سختـو شپـېوکي
په دي ورانو کنډوالوکي
له مشـفق رهنمـا لري
د راکښېو په ګـردو کي
د ځواني مزي تري پاته
له تیـارو نه ځي رڼا ته
منزل اوږد خو هدف لوړ دي
انتظار کـوي سبـا ته
اوس له غـمه وچ لرګي شو
د یار دین ته سپیلني شو
له غـمـونو او فکرونو
یقین وکړي تور لوګي شو
د ظلمت ورونیـدوته
د وحشت وختـمیـدوته
لکه شـمـه ویلیکیږي
د محفل و څوښیـدوته
خدایه ته یي نور هوسا کړي
دښمنان یي ټول تبا کړي
حـقـیقي جنډه یي لوړه
پر جنډیو د دنیـا کـړي

دوبیتي

ګلم جم اي ګلم جم اي ګلم جم
هزاران خـانه از دست تو در غم
اګر صد تونل و کـوتل ببندی
ګلیمت میشه جم بي تك و دم

مهربان

تصوف چیست و صوفي کیست ؟

شمس «راد»

مسلك تصوف و صوفیګري و عرفان در کشور اسلامي ما ریشه عمیقي داشته و زیر بناي خود شناسي و خدا شناسي و انساندوستي در همه ادوار و قرون بوده است .

در تصوف و صوفیګري خداشناسي و عاقبت الامر «فنافي الله» مطرح است که این امر از راه مطابعت کامل شریعت شناسي و بشر دوستي حاصل شده میتواند .

سیر عرفان و تصوف در تاریخ فرهنګي کشور نشان میدهد که صوفیان و عارفان بزرګي در درازناي قرون و اعصار در جامعه ما ظهور نموده و مصدر خدمات بزرګ دیني و ملي ګردیده اند .

